# سیاسي غورځنګونه

دیموکراسي ډېره پخوانۍ کلمه ده چي د دوو یوناني کلمو څخه جوړه سوې ده. (دیمو) په معنی د خلکو او (کراسي) معنا د واک. ډېر پخوا د لومړي ځل له پاره د یونان په پلازمېنه اتن کي د دیموکراسۍ مفکوره را پیدا سوه چي په هغه وخت کي یوازي نارینو د رایي ور کولو حق و درلود. دوی د دي لپاره رایي ور کړلې چي په څه شان باید دوی ژوند وکړي. پدغو رایو ورکولو کي ښځو او مریانو (غلامانو) د رایو ور کولو حق و نه درلود.

د اروپا د دیموکراسۍ ریښې د فرانسې د ستر انقلاب (۱۷۸۹م) څخه را پیل سوي دي.

په یوه ټولنه کي چي دیموکراسي وي نو د هغې ټولني غړي:

- د رایي ورکولو یا انتخاب حق لري.
- په ګوندونو (حزبونو) کي ګډون کولای سي.
- د خبرو او لیکلو ازادي لري.
- د مطبوعاتو ازادي لري.
- د غونډو او مظاهرو حق و لري.
- په ټولنه کي په ربښتنۍ توګه د قوانینو څخه د ګټه اخیستلو حق و لري.

په اروپا کي د شلمي پېړۍ له پیل څخه په ربښتني ډول دیموکراسي منځ ته راغلې ده. په غریبو او وروسته پاته هیوادو کي زیاتره وختونه دیموکراسي شتون نه لري ځکه چي د هغو هیوادونو زیاتره خلک سواد او پوهه نه لري.

په کوم هیواد کي چي دیموکراسي نه وي هلته قدرت د یوه نفر یا یوه ګروپ خلکو په لاس کي وي چي هغه ته دکتاتور وایي لکه په ۱۹۳۳م کال کي په جرمني کي ادولف هیتلر او په ایټالیا کي موسولوني له ۱۹۲۲م څخه تر ۱۹۴۳م پوري او داسي نور.

## ديموکراسي په سويډن کي :

په سويډن کي هم د نولسمي پېړۍ له پيل سره ديموکراسي په رښتنۍ توګه منځ ته راغلي ده . د مثال په توګه په ۱۹۲۱ کال کي د لومړي ځل لپاره ښځو هم و کولای سواى چي د رايي ور کړي .

په ځينو د يموکراسي هيوادونو کي د دولت مشر ډېر زيات قدرت لري لکه په امريکا کي چي ئې اولسمشر لري . خو په ځينو ديموکراسي هيوادونو کي بيا هيڅ قدرت نه لري لکه په سويډن کي پاچا .

## ديموکراسي دوه ډوله ده :

### ۱ ـ مستقيمه ديموکراسي :

هغه ديموکراسي ته وايي چي د ټولني هر غړی د يوې موضوع په اړه سربېره پر دې چي نماينده ئې په پارلمان کي وي بيا هم پخپله رايه ور کړي . لکه په سويډن کي چي خلکو پر لاندنيو موضوعاتو مستقيمه رايه ور کړېده :

۱ ـ د نشيي مشروباتو د بندولو په خاطر ، په ۱۹۲۲ م کال کي .

۲ ـ د کيڼ لاس ترافيک دي په راسته لاس بدل سي ، په ۱۹۵۵ م کال .

۳ ـ خلکي تقاعد ATP دي قانوني سي او که دي پخپله خوښه وي ، په ۱۹۵۷ م کال کي .

۴ ـ ذروي قوه دي وي او که دي له منځه ولاړه سي ، په ۱۹۸۰ م کال کي.

۵ ـ سويډن دي د اروپا اتحاديې ته شامل سي که نه ، په ۱۹۹۴ م کال کي .

### ۲ ـ غير مستقيمه ديموکراسي :

هغه ديموکراسي ده چي د يوې ټولني غړي پارلمان ته خپل انتخابي نمايندګان استوي او هغوی د هيواد د موضوعاتو په اړه فيصلي کوي . له بده مرغه ځيني خلک ديموکراسي د

مطلقي ازادۍ په مفهوم تلقي کوي ، خو ديموکراسي ازادي ده ، خو د قانون په چوکاټ کي.

پوښتني :

۱ ـ د ديموکراسي کلمه يعني څه او په اروپا کي څه وخت منځ ته راغلې ده ؟

۲ ـ څه وخت ويلاى سو چي په يوه ټولنه کي ديموکراسي سته ؟

۳ ـ ايا د يوې ټولني اقتصادي حالت او پر مختګ په هغه هيواد پر ديموکراسي تاثير لري ؟

۴ ـ څو ډوله ديموکراسي پيژنئ ؟ شرحه ئي کئ !

## ګوندونه (حزبونه) په افغانستان کي

په ۱۷ مه پېړۍ کي په انګلستان کي د پارلمان منځته راتلو په هغه هيواد کي د مشروطيت اساس کښېښود او په ۱۸ مه پېړۍ کي د فرانسې لوى انقلاب د بشر د حقوقو اعلاميه منځته راووسته. دغه ډول د نړۍ په نورو هيوادو کي هم د ديموکراسۍ رېغ را پورته سو.

په افغانستان کي په ۱۸۶۲ ـ ۱۸۷۸ م کلونو کي سيدجمال الدين افغان د امير شيرعلي خان د لومړي ځل پاچاهۍ په دوره کي د يوه اصلاحي پروګرام وړانديز و کړ. امير په دغه دوره کي د انګليسانو د مخالفت له امله و نه کولاى سواى هغه اصلاحات را منځته کړي.

څو هغه وو چي د انګرېزانو د فوځي تېري (د افغان او انګرېز دوهمه جګړه) را پيل سوه او له امله ئي هغه اصلاحي پروګرام پر مختګ و نه کړ.

امير شير علي خان د خپلي پاچاهۍ په دوهمه دوره کي و کولاى سواى چي د سيد جمال الدين هغه د اصلاحاتو پروګرام عملي کړاى سي. امير شيرعلي خان په دوهمه دوره کي ئي لوستلاى سئ.

## د مشروطيت غوښتونکو لومړۍ ډله:

د امير حبيب‌الله خان د پاچاهۍ په دوره کي کله چي امير د حبيبيې ليسه او شاهي مدرسه پرانيسته، له دې لاري ځخه ځوانانو ته د غونډو کولو امکانات پيدا سول. هغه وو چي د ۱۹۰۶م کال د جنورۍ پر لومړۍ نېټه د حبيبيې د ليسې او د شاهي مدرسې ښوونکو او علماوو د سراج‌الاخبار انجمن جوړ کړ. د سراج‌الاخبار جريده ئې را و ايسته ۱۹۰۶ م کال. دغه اخبار ۳۶ پاڼې درلودلې. دغه لومړنۍ او اخرنۍ جريده وه، ځکه چي د انګرېزانو او د افغانستان د حکومت له خوا بنده سول.

د ۱۹۰۶او ۱۹۰۹ م کلونو تر منځ د کابل په شوربازار کي د مير سيد قاسم لغماني په کور کي د مشروطيت د لومړي جنبش د جوړېدو غونډه و سوه.

په دې غونډه کي د مشروطيت د جنبش مشر مولوي محمد سرور واصف کندهارى و ټاکل سو. دوی د لومړي ګوند بنسټ کېښېښود چي نوم ئې (اخوان افغان) يعني افغاني ورونه وو.

د دې ډلي ارمان په هيواد کي د قوانينو او د يوه قانوني حکومت منځ ته راتلل ول. دوی خپلي غونډې په پټه د قران، قلم او توري په منځ کي اينبودلو سره پيل کولې. قسم به ئې کاوه چي دين، ازادی، معارف او سواد ته به خدمت کوي.

د دغه ګوند(د مشوطيت غوښتونکو) غړو له پاچا (امير حبيب الله خان) ځخه د يو شمېر اصلاحاتو غوښتنه و کړه. دغه کار د پاچا او انګرېزانو خوښ نه سو.

د دغه کار په منځته را تلو سره امير حبيب‌الله خان لومړی هغه لړ لړ اصلاحات لکه د ښوونځيو پرانيستل او د مطبوعاتو نسبي ازادي له منځه يوړل او د دغي ډلي ځيني غړي ئې مړه کړل او ځيني نور ئې بنديان کړل.

يادونه: د مشرطيت غوښتونکو هدف دا وو چي په هيواد کي دي ټوله قدرت د پاچا په لاس کي نه وي. بلکي خلک دي و کولای سي چي د انتخاب، خبرو او ليکلو حق و لري او خپل دغه هدف ئې په لسو مادو کي لنډ کړی وو:

۱ـ د اسلام د دين اطاعت کول او ټولو احکامو ته ئې غاړه اينبودل.

۲ـ ملي حقوق ټينګول، د مشروطيت رژيم منځ ته راوستل او د قانون چلول.

۳- د بې ځايه عادتونو له منځه وړل.

۴- د ټولو قومونو او قبيلو تر منځ ملي يووالى منځ ته راوړل.

۵- په وروركلوي سره د ملت اصلاح كول نه دا چي په زور سره وي.

۶- په ټول هيواد كي د معارف عام كول او د مطبوعاتو د لاري د خلكو وينبول.

۷- د ملي شورا جوړول د خلكو د ازادو انتخاباتو له لاري.

۸- د افغانستان د سياسي ازادۍ اخيستل او د نورو بهرنيو هيوادو سره سياسي او اقتصادي اړيكي درلودل.

۹- د اجتماعي مساوات او عدالت اصول منځته راوړل.

۱۰- د نوي صنعتي او حرفيي مدنيت تهداب ايښودل؛ د لارو، ښارونو جوړول؛ د اوبو او برق منابع پيدا كول.

## د مشروطيت غوښتونكو دوهمه ډله:

دا ځل بيا په ۱۹۱۱م كال كي يو شمېر نور ځوانان سره راټول سول او د دوهم ځل لپاره ئې د محمود طرزي له لاري چي د دوو شاهزادګانو (سردار عنايت الله خان او سردار امان الله خان) سره چي د امير حبيب الله خان زامن ول، دوستي درلوده د سراج الاخبار په جريده بيا پيل وكړ.

د دې ډلې غړي تر لومړۍ ډلې څه شديد وه، ځكه دوى دې هدف ته د رسېدو لپاره د اسلحې استعمال هم مانه. د پاچا دوه پورتني زامن او د دربار يو شمېر نور كار كوونكي هم ور سره ملګري ول.

د ۱۹۱۹م كال د فبروري پر ۲۰ امير حبيب الله خان په لغمان كي په مرمۍ و ويشتل سو. د مشروطيت غوښتونكو دا ډله د يوه قانوني حكومت په جوړولو بريالۍ سوه. امان الله خان پاچا سو او د مشروطيت غوښتونكو ارمانونه پر ځاى سول.

د دغې ډلې (ګوند) فعاليتونه هم د پاچا امان الله خان د پاچاهۍ له ړنګېدو سره سم له منځه ولاړل.

## ويښ ځلميان :

د مشروطيت غوښتونکو له لومړۍ او دوهمي ډلي وروسته د ويښو ځلميانو په نامه يو ګوند منځ ته راغی چي د منځته راتلو کال ئې ۱۳۲۵ هـ ل ټاکل سوی دئ. دې غورځنګ ډېر غړي لرل چي مشهور غړي ئې دادي:

۱ـ عبدالروف بېنوا

۲ـ ګل پاچا الفت

۳ـ ارسلان سليمي

۴ـ قيام الدين خادم

۵ـ قاضي بهرام خان

۶ـ محمد علم بځرکی

۷ـ نور محمد ترکی

۸ـ فيض محمد انګار

۹ـ غلام حسن صافی

۱۰ـ محمد رسول پښتون

۱۱ـ عبدالشکور رشاد.

د دغه غورځنګ هدف دا وو چي ملت ته د قلم، بيان، ګوندونو او نوري ازادۍ ور وګټي او دا ئې غوښتل چي دا جمعيت دي ديني رنګ ولري.

د دغه ګوند لومړۍ خپرونه (اخبار) د (انګار) په نامه يادېده او د امتياز خاوند ئې ښاغلی فيض محمد انګار وو. دوهمه اوو نيزه خپرونه ئې د (اولس) په نامه يادېده چي د امتياز خاوند ئې ګل پاچا الفت وو.

په دغه وخت کي غلام محمد غبار يو ګوند د (وطن) په نامه او عبدالرحمن محمودي يو ګوند د (ندای خلق) په نامه مخته وړل.

په ۱۳۴۳ هـ ل کال کي چي د ظاهر خان پاچا په وخت کي نوی اساسي قانون منځ ته راغی يو شمېر ګوندونه منځ ته راغلل، چي ځيني ئې هغه د ويښو ځلميانو د غړو له خوا جوړ سوه چي په لاندي ډول ئې دلته راوړو:

## د خلق ديموکراتيک ګوند :

دغه ګوند د نورمحمد ترکي ، ببرک کارمل ، حفيظ الله امين او يو شمېر نورو خلکو له خوا منځ ته راغلی ۱۱ د جدي د ۱۳۴۳هـ ل کال ۱/۱/ ۱۹۶۴م . د ۱۹۶۶ م کال د اپريل پر ۱۱ نېټه ئې د خلق په نامه يو اخبار را و ايست چې د شپږو جريدو تر راوتلو وروسته د حکومت له خوا بند سو .

د نورمحمد ترکي او ببرک کارمل تر منځ د اختلاف له امله کارمل او د هغه پلويان د خلق له ګوند څخه جلا سول او يو نوی ګوند ئې د پرچم په نامه جوړ کړ ۱۴/ ۲ / ۱۳۴۶ هـ ل کال .
د خلق او پرچم ګوندونو دواړو د هغه وخت د شوروي اتحاد سره نيږدې اړيکي درلودې .

نور ګوندونه لکه :

- د شعله جاويد ګوند
- د افغان ملت ګوند
- د جمعيت اسلامي ګوند
- اسلامي ګوند
- د مساوات ګوند
- يو شمېر داسي نور ګوندونه په دغه وخت کي منځته راغلل .

د سردار محمد داود د جمهوريت په وخت کي لومړی د سياسي ګوندونو فعاليتونه منع سول او څه موده وروسته ئې خپل ګوند د ملي غورځنګ په نامه اعلان کړ .

**پوښتني :**

۱ ـ له څه وخت راهیسي او له کومه ځایه په نړۍ کي د ګوندونو اساس کښېښودل سو ؟

۲ ـ په افغانستان کي څه وخت د سیاسي ګوند فکر را پیدا سو ؟

۳ ـ په افغانستان کي د امیر حبیب الله خان په دوره کي څه پېښنه سوه چي ځوانانو ته سیاسي مفکورې پیدا سوې او هغوی څرنګه پدې کار پیل و کړ ؟

۴ ـ په ۱۹۱۱ کال کي د کومي لاري او څرنګه د مشروطیت غوښتونکو دوهمي ډلي خپل سیاسي فعالیتونه پیل کړل ؟

۵ ـ ویښ زلمیان څوک ول او څه ئې غوښته ؟

۶ ـ په افغانستان کي سیاسي ګوندونو کله اجازه پیدا کړه او د خلق دیموکراتیک ګوند د چا له خوا او څرنګه منځ ته راغل ؟

لیکونکی : عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com
www.pashto.se
0046709384755